هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسيس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۲۹) ماه صفرالمظفر ۱۴۴۸ هـ ق. مطابق ماه سرطان ۱۴۰۵ هـ. ش

ښوونه او روزنه د نېکمرغۍ او سوکالۍ بنسټ او سرچينه ده.

## د عمومي کانکور آزموينې لس تنه مخکښ طُلاب او زده‌کوونکي د پوهنې وزارت مشرتابه له لوري وستايل شول

د ۱۴۰۵ لمريز کال د عمومي کانکور آزموينې د لسو تنو مخکښو طُلابو او زده‌کوونکو د ستاينې غونډه د پوهنې وزارت د رهبرۍ، مرکزي رئيسانو، د زده‌کوونکو د کورنيو غړو، ښوونکو او مدرسينو په ګډون د پوهنې وزارت د غونډو په تالار کې ترسره شوه.

په پيل کې د پوهنې د محترم وزير الحاج مولوي حبيب الله آغا پيغام د پوهنې وزارت د مالي او حسابداري د رئيس محترم مولوي صدرالدين سعد، له لوري ولوستل شو.

وروسته د پوهنې وزارت د مقام دفتر لوی رئيس محترم شيخ محمد طاووس طارق، د مخکښو زده‌کوونکو له هڅو او زيار ستاينه وکړه او د کانکور په عمومي آزموينه کې يې د هغوی پر بريا خوښي څرګنده کړه. نوموړي له هغوی



وغوښتل چې د ملک د پرمختګ او آبادۍ په برخه کې هېڅ ډول هڅې او هاند ونه سپموي.

همدا رنګه د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معين محترم شيخ عبدالمالک حقاني، د خپلو خبرو پر مهال مخکښو زده‌کوونکو ته مبارکي ووېله او څرګنده يې کړه چې ددیني علومو ترڅنګ عصري علوم ځانګړې ارزښت لري چې د اسلامي تمدن د لا غوړېدو او پرمختګ لامل ګرځي.

نوموړي د علم او علماءکرامو د ارزښت په اړه د خبرو پر مهال زياته کړه چې ملک مو ښوونيزې ټکنالوژۍ او مسلکي کادرونو ته اړتيا لري او موږ بايد د همدې مخکښو طُلابو او زده‌کوونکو په مټ دې موخو ته ورسېږو.

په دې غونډه کې د کيفيت تضمين معين محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق، ټولو هغو طُلابو او زده‌کوونکو ته چې د لوړو زده‌کړو بنسټونو ته بريالي شوي مبارکي ووېله او زياته يې کړه: تاسو د ملک د راتلونکي معماران او رهبران ياست تاسو ته ښايي چې د خپل ولس او ټولنې پر وړاندې د مسئوليت احساس ولرئ او د خپلو زده‌کړو له لارې ددې کړېدلی ملک په پرمختګ او سمسورتيا کې رغنده ونډه واخلي...

۲مخ

## برگزاری نشست اصلاحی و رهنمودی برای شماری از معلمین مکاتب شهر کابل

کميته تطبيق قانون امر بالمعروف و نهی عن المنکر وزارت معارف و رياست دعوت و ارشاد، نشست يک‌روزه اصلاحی و رهنمودی را برای شماری از معلمين مکاتب نواحی هشتم نهم، دوازدهم و شانزدهم شهر کابل در تالار ليسه استاد عبدالحق بيتاب برگزار کرد.

در اين نشست، محترم مولوی جنت‌گل عزيز رئيس عمومی امور کارکنان و مسئولان رياست دعوت و ارشاد وزارت معارف، معلمين مکاتب نواحی يادشده و شماری از علماء کرام حضور داشتند.

نشست با تلاوت آياتی چند از قرآن کريم آغاز شد سپس رئيس عمومی امور کارکنان وزارت معارف، ضمن خوش‌آمديد به اشتراک‌کنندگان، در پرتو دين مقدس اسلام پيرامون پيروی از سيرت و سنت مبارک رسول اکرم صلی‌الله عليه وسلم، پاسداری از ارزش‌های اسلامی و جلوگيری از تقليدهای نادرست، سخنرانی علمی و مفصل ارائه کرد.

وی از معلمين خواست تا مطابق رهنمودهای شريعت اسلامی مسئوليت بزرگ دينی خويش را در قبال تعليم و تربيه شاگردان، با صداقت کامل ادا کرده و در تطبيق قانون امر به معروف و نهی از منکر با مسئولان مربوط همکاری نمايند. همچنان، چند تن به نمايندگی از معلمين اشتراک کننده در نشست، از برگزاری هم چو نشست ها ابراز خرسندی کرده و اظهار داشتند که چنين برنامه‌های علمی و اصلاحی در راستای تربيت سالم نسل جوان، تقويت عقيده اسلامی، جلوگيری از انحرافات فکری و اصلاح محيط تعليمی، نقش مهم و ارزنده دارد.

آنان همچنان پيرامون حيا و عفت، رعايت حجاب اسلامی، پيامدهای منفی بی‌حجابی، اهميت نماز در اسلام و مسئوليت‌های امر به معروف و نهی از منکر صحبت کردند.

## د سړو سيمو څلورنيم مياشتنۍ آزموينې پيل شوې



د پوهنې وزارت د ښوونيزې لايحې له مخې د چنګاښ مياشتې په ۱۵مه نېټه د ملک په سړو سيمو کې له څلورم څخه تر دولسم ټولګي پورې د طُلاب العلم او زده‌کوونکو څلورنيم مياشتنۍ أزموينې پيل شوې.

د يادو آزموينو لپاره د...

۲مخ

## توزيع بسته آموزشی به شاگردان شماری از مکاتب در کابل



رياست معارف ولايت کابل به همکاری يک نهاد همکار به هدف حمايت از آموزش باکيفيت و ايجاد فرصت‌های تعليمی، ۹۱۹ بسته آموزشی را برای صدها شاگرد سه باب مکتب در ولسوالی‌های شکردره، ده‌سبز و بگرامی ولايت کابل توزيع کرد.

مسئولان رياست معارف ولايت کابل می گويند به همکاری نهاد همکار سه مرکز تعليمی را تحت پوشش قرار داده که شامل يک باب مکتب شش‌صنفی در ولسوالی شکردره با ۳۹۳ شاگرد و ۱۲ معلم، يک باب مکتب سه‌صنفی در ولسوالی ده‌سبز با ۲۶۰ شاگرد و ۶ معلم و يک باب مکتب سه‌صنفی در ولسوالی بگرامی با ۲۶۶ شاگرد و ۶ معلم می باشد.

مسئولان مي افزايند که هر بسته آموزشی شامل شش جلد کتابچه، دو عدد پنسل، دو عدد پنسل‌تراش، دو عدد قلم، يک بوتل رنگ، يک بيک، يک ست ۱۲ رنگ، يک بوتل آب، يک ست کتاب و دو عدد پاک‌کن بوده که به هدف تقويت روند يادگيری، کاهش مشکلات ناشی از کمبود لوازم درسی و افزايش انگيزه متعلمين برای ادامه آموزش تهيه شده است.

مسئولين رياست معارف کابل هدف از...

ص۲

## در اين شماره

کانکور؛ د علمي ودې بنسټ دی — مخ ۲
صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم ځلېدونکي ستوري — مخ ۳
شناخت ارزش‌های فردی کودک به دور از مقايسه — ص ۳

سرلیکنه

# کانکور؛ د علمي ودې بنسټ دی

بسم‌الله الرحمن الرحیم
اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

د کانکور آزموینه یو مهم او معیاري بهیر دی، چې هر کال د زرګونو طُلابو العلم او زده کوونکو د علمي وړتیاوو د ارزونې په موخه په شفاف او منظم ډول ترسره کېږي. دا آزموینه د ځوان نسل د کلونو هڅو، زحمتونو او هیلو د تحقق یو بنسټیز پړاو ګڼل کېږي، چې له دې لارې یې د لوړو زده کړو زمینه برابره او د راتلونکي علمي او مسلکي لوری ټاکل کېږي.

د سږ کال په کانکور آزموینه کې د لسګونو زره طُلابو العلم او زده کوونکو پراخ ګډون، د پوهنې وزارت د دوامدارو هڅو د مدرسینو او ښوونکو د نه ستړې کېدونکو هلوځلو او د طُلابو العلم او زده کوونکو د پیاوړې ارادې ثرګند ثبوت دی. په ځانګړې ډول، د یوه با استعداده زده کوونکي له لوري د پوره ۳۶۰ نمرو ترلاسه کول یو بې ساری او تاریخي علمي بریالیتوب ګڼل کېږي چې دا نه یوازې د یوه کس لاسته راوړنه بلل کېږي، بلکې د ټول ښوونیز نظام د پرمختګ، د کورنیو د ملاتړ او د زده کړې د ارزښت ژوندی انځور وړاندې کوي.

ددې بریا پیغام دا دی چې زموږ په ملک کې د استعدادونو هېڅ کمښت نشته په همدې اساس هغه طُلابو العلم او زده کوونکي چې د کانکور له لارې پوهنتونونو ته لار مومي باید په دې پوه شي چې د دوی اصلي مسئولیت اوس پیلېږي. نو لازمه ده چې طُلابو العلم او زده کوونکي هڅه وکړي چې د لوړو زده کړو په بهیر کې له خپل وخت څخه اغېزمنه ګټه واخلي، د خپلو څانګو په اړه ژوره مطالعه وکړي، عملي مهارتونه زده کړي او د ملک د اړتیاوو سره سم ځانونه دپوهې او مهارت په ګاڼه سمبال کړي، ځکه چې نني طُلابو العلم او زده کوونکي د سبا ورځې متخصصین دي او همدا متخصصین به د ملک د پرمختګ بنسټ جوړوي.

له بلې خوا، هغو ځوانانو ته چې په مدرسو او ښوونځیو کې په زده کړو بوخت دي دا یو روښانه پیغام دی چې بریا تصادفي نه، بلکې د دوامدارو هڅو، منظمې مطالعې او پیاوړې ارادې پایله ده. هره شپه مطالعه، هره پاڼه کتاب او هره هڅه د راتلونکي د بریا بنسټ دي. طُلاب او زده کوونکي هېڅکله باید له ستونزو ستړي نه شي او له ناکامۍ ونه وېرېږي، ځکه ناکامي د بریا لومړی درس دی. دعلم زده کړه یوازې د آزموینو لپاره نه ده، بلکې د ژوند د سالمې لارښوونې، د فکر د پراختیا او د ټولنې د پرمختګ ځواک دی. هغه ملتونه پرمختګ کوي چې خپلو ځوانانو ته د زده کړې ارزښت ور زده او هغوی د علم په وسیله ځواکمن کړي. زموږ ملک هم د همدې ځوان او متدین نسل له لارې کولی شي روښانه راتلونکی ولري.

د پوهنې وزارت ژمن دی چې د ملک د بچیانو لپاره د سالمې روزنې او معیاري تعلیمي چاپېریال د برابرولو په برخه کې خپلې هڅې لا پیاوړې کړي. د ښوونیز نظام د کیفیت لوړول، د ښوونکو ظرفیت لوړونه، د نصاب معیاري کول او د طُلابو العلم او زده کوونکو د علمي ودې لپاره د مناسبو شرایطو رامنځته کول د دې وزارت له اساسي لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه، هغه ځوانان چې پوهنتونونو ته بریالي شوي باید داسې زده کړه وکړي چې نه یوازې د خپلې څانګې په برخه کې متخصصین شي، بلکې د ټولنې دپرمختګ لپاره ژمن مسئول او د ولس خدمتګاره وګرځي.

په پای کې، د کانکور آزموینې پایلې او په کې ترلاسه شوې بریاوې دا څرګندوي چې د ملک راتلونکی د تعلیم له لارې روښانه کېدای شي. راځئ چې د زده کړې نظام پیاوړی او د علم دا سفر په پوره باور ټینګې ارادې او لوړو هیلو سره تر منزله ورسوو.

بې له شکه، نني طُلابو العلم او زده کوونکي د سبا ورځې د پرمختللی افغانستان جوړونکي دي، او د دوی بریا د یو روښانه، پرمختللي او باعزته افغانستان زیری ورکوي.

# د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د تېرې اونۍ فعالیتونه

د پوهنې وزارت دعوت او ارشاد ریاست په ښوونیزو مرکزونو کې د دیني، روزنیزو او څارنیزو فعالیتونو د پیاوړتیا په موخه د تېرې اوونۍ په ترڅ کې د یاد ریاست څارنیزو ټیمونو د کابل ښار اړوندو ۲۵ بابه خصوصي تعلیمي مرکزونو درسي بهیر وڅاره. د څارنې پر مهال د تعلیمي نصاب د تطبیق، نظم او ډسپلین، د ښوونیز چاپېریال، اخلاقي وضعیت او د سیرت او صورت اړوند موارد وارزول شول او د چارو د لا ښه والي په برخه کې مسئولینو ته لازمې لارښوونې وشوې.

په ورته وخت کې د پوهنې وزارت د مرکزي ادارو د یو شمېر کارکوونکو سیرت او صورت هم وارزول شو او هغوی ته د دیني او وظیفوي مسئولیتونو په اړه اړینې سپارښتنې وشوې.

بل لور ته، د ملک په کچه د ولایتونو د دعوت او ارشاد ادارو، د ولسوالیو پوهنې آمریتونو، امارتي او خصوصي مدارسو، ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو کې د دعوت او ارشاد نصاب تدریسي بهیر په منظم ډول دوام درلود. دغه نصاب د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو د پیاوړتیا، د ښوونیز چاپېریال د اصلاح او د زده‌کوونکو، ښوونکو او اداري کارکوونکو د فکري او اخلاقي روزنې په موخه وړاندې کېږي او د تعلیمي کیفیت لوړولو لپاره یې دوامداره څارنه ترسره کېږي.

د دعوت او ارشاد ریاست ټینګار کوي چې د سالم، منظم او اغېزمن ښوونیز چاپېریال رامنځته کولو، د دیني او اخلاقي ارزښتونو پیاوړتیا او د تعلیمي چارو لا ښه تنظیم لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

# برگزاری مسابقات بهاری والیبال میان مکاتب ولسوالی پغمان ولایت کابل

رقابت‌های ورزشی مسابقات بهاری والیبال میان تیم‌های مکاتب ولسوالی پغمان به‌منظور ترویج فرهنگ ورزش، تقویت روحیه رقابت سالم و همبستگی میان شاگردان به همکاری آمریت تربیت بدنی ریاست تعلیمات اساسی و ثانوی، برگزار شد.

در دیدار نهایی، تیم‌های لیسه ذکور پغمان و لیسه دوده‌مست به مصاف هم رفتند که در پایان، تیم لیسه ذکور پغمان با نتیجه ۳ بر صفر به پیروزی رسید و عنوان قهرمانی این دوره از مسابقات را از آن خود کرد.

در مراسم اختتامیه این مسابقات مسئولان وزارت معارف از تیم قهرمان، تیم نایب‌قهرمان و ورزشکاران برتر با اهدای جام، مدال و تقدیرنامه، تقدیر به‌عمل آمد.

### د عمومي کانکور آزموینې لس تنه...

په ورته مهال د پوهنې وزارت د مدارسو او دارالحفاظو رئیس محترم مفتي محمد یوسف ثاقب، د نبوي احادیثو په رڼا کې د آزموینې پر ارزښت خبرې وکړې او له طُلابو او زده‌کوونکو یې وغوښتل چې د ټولنې او خلکو د خدمت جوګه او د افغانستان د پرمختګ لپاره په ټول توان هڅې وکړي.

همدارنګه د مدارسو او ښوونځیو دوو تنو مخکښو زده‌کوونکو د کانکور په عمومي آزموینه کې د خپلې بریا د رازونو او تجربو په اړه خبرې وکړې او د پوهنې وزارت له رهبرۍ او د تعلیمي مرکزونو له ټولو استاذانو او ښوونکو څخه یې چې د ملک د بچیانو په سالمه روزنه کې هڅې کړې او کوي یې مننه وکړه. هغوی د پوهنې وزارت له لوري ددوی د ستاینې له امله هم مننه وکړه او د دا ډول تشویقي غونډو جوړول یې دځوانانو د هڅونې په برخه کې اغېزناکې وبللې.

د غونډې په پای کې مخکښ طُلاب العلم او زده‌کوونکي د پوهنې وزارت د رهبرۍ له لوري په مادي او معنوي ډالیو وویاړل شول چې په کې لپټاپ کمپیوټرونه، ستاینلیکونه، یادګاري تندیسونه جامې، ساعتونه او نورې نغدي او معنوي ډالۍ شاملې وې.

غونډه د پوهنې وزارت د ستر سلاکار مولوي سید غیاث الدین آغا په دعائیې سره پای ته ورسېده.

### د سږ و سیمو څلورنیم میاشتنۍ...

ښوونځیو مسئولینو د اړوندو ولایتي پوهنې ریاستونو په همکارۍ له وړاندې ټول لازم چمتووالی نیولی، ترڅوآزموینې په بشپړ نظم، روڼتیا او د زده‌کوونکو د دقیقې ارزونې له اصولو سره سم ترسره شي.

په همدې موخه د پوهنې رئیسانو او د څار برخې آمرینو له بېلابېلو ښوونځیو څخه لیدنې وکړې او د آزموینو بهیر، نظم او انضباط یې له نږدې وڅاره.

مسئولینو د خپلو خبرو پر مهال له ښوونکو وغوښتل چې د ځواب‌پاڼو په ارزونه کې عدالت او روڼتیا په بشپړه توګه مراعات کړي.

دغه راز هغوی طُلاب او زده‌کوونکي د آزموینو د اصولو او مقرراتو رعایت ته وهڅول او ترې یې وغوښتل چې له بشپړ چمتووالي سره آزموینو ته حاضر شي.

د یادونې وړ ده چې له لومړي څخه تر دریم ټولګې پورې د زده‌کوونکو آزموینې به د چنګاښ په ۲۵مه نېټه پیل او د همدې میاشتې تر پایه به دوام ولري.

### توزیع صدها بسته آموزشی به...

توزیع این بسته‌ها را بخشی از برنامه‌های حمایتی برای ارتقای کیفیت آموزش، بهبود شرایط یادگیری و حمایت از کودکان در مناطق محروم عنوان کرده است.

### برگزاری نشست علمی ارائه نتایج ...

تحقیقات علمی صحبت کرده و افزود که تحقیق، اساس تحلیل همه‌جانبه هر موضوع است. وی افزود: تحقیق، بررسی و تحلیل در تمام امور علمی و اداری اهمیت ویژه دارد.

در ادامه این نشست، تحقیقات انجام‌شده در جریان سال گذشته، طرح‌های تحقیقاتی، مقالات علمی و پیشکش های علمی توسط استادان و محققان مربوطه به اشتراک کنندگان ارائه و یافته‌ها و نتایج مهم آن‌ها شریک ساخته شد.

قابل یادآوری است که ریاست تحقیقات علمی در جریان سال تعلیمی ۱۴۴۷ هـ.ق، ۱۵ تحقیق علمی، طرح‌های تحقیقی، مقالات، پیشکش ها و شماری دیگر از فعالیت‌های علمی را انجام داده است که نتایج آن با رهبری وزارت معارف شریک شده است.

مسئولان ابراز امید واری کردند که یافته‌های این تحقیقات در ارتقای کیفیت نظام تعلیمی، پیشرفت علمی و روند تصمیم گیری نقش مؤثر ایفا خواهد کرد.

### د زابل ولایت په دوه بابه ښوونځیو...

چې د ښوونیزو بنسټونو پیاوړتیا د ټولنې د پرمختګ اساس دی او په دې برخه کې د خلکو فعاله ونډه د پوهنې د ودې، پراختیا او د راتلونکو نسلونو د روښانه راتلونکي لپاره ارزښتناکه او د ستاینې وړ ده.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو له مخې د ۸ معیاري ټولګیو د جوړېدو اټکلی لګښت شاوخوا یو میلیون افغانۍ اټکل شوی چې د سیمې د اوسېدونکو په مالي مرسته به بشپړ او له بشپړېدو وروسته به د زده‌کوونکو د ګټې اخیستنې لپاره وسپارل شي.

همدارنګه د ارغنداب ولسوالۍ د پوهنې آمریت په هڅو د سلیمان زائي ابتدائیه ښوونځي د شورا په همکارۍ او د سیمې د اوسېدونکو په مالي مرسته د یاد ښوونځي لپاره ۵ درسي ټولګي یوه اداري شعبه او درې جریبه ځمکه ورکړل شوي ده د یادې پروژې او درې جریبه ځمکې ټول ټال لګښت شاوخوا ۵۰۰ زره افغانۍ اټکل شوی دی.

د مسؤلینو په وینا د دغو ټولګیو په جوړېدو سره به شاوخوا ۷۵۰ تنه زده‌کوونکو ته د زده کړې خوندي، مناسب او معیاري چاپېریال برابر شي، چې د سیمې د ښوونیز بهیر د پیاوړتیا او د زده‌کوونکو د زده‌کړو د کیفیت د لوړوالي په برخه کې به اغېزناک رول ولوبوي.

### غزني ولایت کې د ښوونځي نوې ودانۍ...

او د پوهنې د ودې او پرمختګ په برخه کې یې د هغوی ونډه ارزښتناکه وبلله. نوموړي ټینګار وکړ چې د خلکو او پوهنې ترمنځ همغږي د ښوونیزو خدمتونو د پراختیا او د معیاري زده‌کړو د برابرولو په برخه کې مهم رول لري.

همدارنګه د غزني ولایت په مرکز کې د شاه ابوالفتح ښوونځي د نوې ودانۍ بنسټ ډبره د پوهنې ریاست دمسئولینو، علماءکرامو او د سیمې د مخورو په حضور کې کېښودل شوه.

د یاد ولایت د پوهنې رئیس وویل چې دغه ودانۍ به د یوه فرهنګي او د پوهنې ملاتړي بنسټ په مالي ملاتړ د ۳ میلیونه افغانیو په لګښت جوړه شي.

د نوموړي په وینا، په دې ودانۍ کې به د ټولو اړینو ملحقاتو ترڅنګ ۹ درسي ټولګي جوړ شي چې لسګونو زده‌کوونکو ته به خوندي او مناسب ښوونیز چاپېریال برابر کړي.

## لنډ خبرونه

### هلمند

د هلمند ولایت په ۱۵ ولسوالیو کې ۱۳۲۰ تنو ښوونکو ته د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ د تقویتي زده‌کړو تولګي جوړ شوي دي. د یو بل خبر له مخې د هلمند ولایت ۲ بابه ښوونځیو ته د سیمې یو تن علم‌پرور شخصیت وکیل محمدخان له لوړي لسګونه قلمه د آزمایښتونو وسایل چې ارزښت یې ۱۸۱ زره افغانۍ کېږي مرسته وشوه.

### هرات

د هرات ولایت د کرخ، کشک رباط سنګي، پښتون زرغون او کذري ولسوالیو علم دوسته اوسېدونکو د ښوونیزو مراکزو جوړولو په موخه شاوخوا ۴.۵ جریبه ځمکه چې ارزښت یې له ۲ میلیونه او ۱۲۰ زره افغانیو څخه زیات دی وقف او د پوهنې وزارت په واک کې ورکړه.

### غزني

سنگ تهداب ساخت تعمیر جدید برای مکتب شاه‌ابوالفتح در مرکز ولایت غزنی به هزینه ۳ میلیون افغانی از حمایت مالی یک نهاد فرهنگی و حامی معارف با حضور مسئولین معارف، شماری از علمای کرام و بزرگان محل گذاشته شد. همچنان برای شاگردان و معلمین این ولایت توزیع مواد ممد درسی به کمک یک نهاد همکار با معارف به ارزش ۶۰ میلیون افغانی آغاز شد.

### لوګر

صنوف مجهز آموزش عملی کمپیوتر در لیسه‌های مرکزی، منګل‌ها، رضاخیل‌ها و چوتره ولسوالی ازره ولایت لوگر با حمایت مالی افراد معارف‌دوست با هزینه مجموعی نزدیک به ۷۰۰ هزار افغانی فعال و با حضور محترم الحاج مولوی گل‌ولی متقی رئیس معارف آن ولایت افتتاح شد.

### ارزګان

د ارزګان ولایت ۵۵ زره ۹۰۷ تنو زده‌کوونکو او ۱ زره ۳۹۸ تنو ښوونکو ته قرطاسیه، درسي مرستندویه توکي او روغتیایي مواد وویشل شول.

### کابل

ریاست معارف شهر کابل به منظور تعیین سطح آموزشی ۳۲۰ تن اطفال مهاجرین برگشته به ملک امتحان تثبیت سویه تعلیمی اخذ کرد.
محترم مولوی حسیب‌الله صاحب‌زاده رئیس معارف شهر کابل از شاگردان خواست تا از فرصت‌های تعلیمی موجود به گونهٔ مؤثر استفاده نمایند.

### فاریاب

د پوهنې وزارت د بهرنیو اړیکو او تمویلوونکو د رئیس مفتي محمد حسن حقاني په مشرۍ پلاوي فاریاب ولایت ته سفر وکړ او هلته یې د یاد ولایت د پوهنې له رئیس محترم الحاج مولوي عبدالله رحماني او د پوهنې ریاست د پروګرامونو له آمرینو سره وکتل.

### دایکندی

روند توزیع ۷ هزار و ۴۳۸ بسته قرطاسیه و مواد ممد درسی برای شاگردان و معلمین مکاتب در ولایت دایکندی با حضور مسئولین معارف آن ولایت آغاز شد.

### ننګرهار

د ننګرهار ولایت د شینوارو ولسوالۍ سیاه‌چوب لیسې لپاره د سیمې اوسېدونکو په مالي ملاتړ د اوبو رسولو او لمریزې برېښنا سیستمونه جوړ او فعال شول. د ننګرهار پوهنې ریاست مسئولینو په وینا د یاد لمریز برېښنایي سیستم جوړولو لګښت ۴۰ زره افغانۍ شوی چې په پلې کېدو سره یې لسګونو ته زده‌کوونکو ته د پاکو اوبو آسانتیا برابره شوې ده.

# صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم ځلېدونکي ستوري

د رسول الله ﷺ له بعثت او نبوت څخه مخکې د حجاز په سیمه کې عرب قوم ژوند کاوه. که څه هم دوی د فصاحت او بلاغت خاوندان وو، خو د ناپوهۍ، قومي تعصبونو قبیلوي شخړو او بې‌لاربې‌لو جاهلي رواجونو په منګولو کې راګیر وو. د علم او هدایت له رڼا څخه لرې وو او آن تر دې چې ځینو به خپلې لوڼې ژوندۍ خښولې.
کله چې الله تعالی د خپل حکمت او سنت له مخې حضرت محمد ﷺ د وروستي پیغمبر په توګه راولېږه، نو د عربو ډېرو خلکو ورسره مخالفت وکړ. قریشو او نورو مشرکانو د هغه دعوت ونه مانه، بلکې بېلابېل تورونه یې پرې ولګول؛ کله به یې جادوګر، کله شاعر او کله به یې لېونی باله. رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو ته یې سخت تکلیفونه او ربړونه ورسول.
خو په همدې ستونزمنو شرایطو کې یو شمېر نېکمرغو انسانانو د رسول الله ﷺ په دعوت ایمان راوړ. نارینه، ښځې او ماشومان د اسلام تر سیوري لاندې راغلل او د حق د لارې ملګري شول. دوی د هر ډول سختیو شکنجو او قربانیو په منلو سره د خپل دین او پیغمبر ملاتړ وکړ او د ایمان په لاره کې د ټینګو غرونو په څېر ودرېدل.
د قرآن کریم د نزول په دوام سره د اسلام رڼا ورځ تر بلې خپرېده. هغه خلک چې پرون د اسلام مخالف وو، په تدریج سره د حق لارې ته راغلل او د رسول الله ﷺ ملګري شول.
صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم د قرآن کریم احکام په بشپړ اخلاص عملي کول او د رسول الله ﷺ هر امر ته به یې له ځنډ او تردد پرته غاړه ایښوده.
د دوی د اخلاص، صداقت او قربانیو په برکت الله تعالی دوی د امت له ټولو غوره نسل وګرځاوه. رسول الله ﷺ فرمایلي دي
ژباړه: «غوره خلک زما د زمانې خلک (صحابه) دي، بیا هغه کسان چې له هغوی وروسته راځي او بیا هغه کسان چې له هغوی وروسته راځي.»
صحیح البخاري حدیث (۲۶۵۲)
صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم د اسلام د خپرولو لپاره سترې قربانۍ ورکړې. ځینو هجرتونه وکړل، ځینو په غزاوو کې ګډون وکړ ځینو د شهادت جام وڅښه او ځینو د علم او دعوت مشعل تر لرې سیمو ورساوه. د دوی په هڅو د اسلام پیغام د عربو له ټاپووزمې څخه د نړۍ بېلابېلو سیمو ته ورسېد. کله چې رسول الله ﷺ خپل رسالت بشپړ ادا کړ او الله تعالی د وصال بلنه ورکړه، صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم د هغه مبارک دین د ساتنې او خپرولو ستر مسئولیت پر غاړه واخیست. دوی د اسلامي نظام بنسټونه ټینګ کړل، عدالت یې خپور کړ او د قرآن کریم او سنتو پیغام یې راتلونکو نسلونو ته په امانت وسپاره.
که څه هم د رسول الله ﷺ له وفات وروسته ځینې فتنې او اختلافات راپیدا شول خو صحابه کرامو رضی الله عنهم د اسلام د ساتنې لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې. د دوی ترمنځ د ورورولۍ، احترام او دیني اخلاص اړیکې موجودې وې او د امت د خیر لپاره یې ستر خدمتونه ترسره کړل.
صحابه کرام رضی الله عنهم د ځلېدونکو ستورو په څېر وو. دوی د هدایت هغه کاروان و، چې د الله تعالی په اراده او د رسول الله ﷺ په مشرۍ، د حجاز له خاورې راپورته شول، د نړۍ ګوټ ګوټ ته یې د ایمان، علم او عدالت پیغام ورساوه او د بشریت لپاره یې د قربانۍ او وفادارۍ تلپاتې بېلګې پرېښودې.
نن چې اسلام تر موږ پورې را رسېدلی، د الله تعالی له فضل وروسته د همدې مبارکو انسانانو د اخلاص، امانتدارۍ او قربانیو برکت دی. له همدې امله مسلمانان تر نن ورځې د دوی نومونه په درناوي سره اخلي او له هر صحابي سره «رضي الله عنه» وایي.
الله تعالی دې له ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه راضي وي او موږ ته دې د هغوی د ایمان، اخلاص او سنتو د پیروۍ توفیق راکړي.

**عبدالعزیز عزام**

# شناخت ارزش‌های فردی کودک به دور از مقایسه

در روند تعلیم و تربیه، یکی از اساسی‌ترین اصولی که باید مورد توجه والدین و معلمین قرار گیرد، شناخت ارزش‌های فردی کودک است. هر کودک با توانایی‌ها و خصوصیات منحصر به فرد پا به دنیا می‌گذارد و همین تفاوت‌ها است که شخصیت او را شکل می‌دهد. زمانی که این توانمندی ها به درستی درک و تقویت شوند، کودک می‌تواند مسیر رشد سالم و موفق را طی کند. اما اگر این ارزش‌ها نادیده گرفته شوند و کودک به طور مداوم با دیگران مقایسه گردد، پیامدهای منفی زیادی بر روحیه و شخصیت او به جا خواهد گذاشت.
ارزش‌های فردی کودک شامل مجموعه‌یی از توانایی‌ها، علایق، احساسات و ویژگی‌های شخصیتی او می‌باشد. برخی کودکان در درس‌های علمی توانایی بیشتری دارند برخی در نو آوری می‌درخشند و برخی دیگر در مهارت‌های اجتماعی و ارتباطی موفق‌تر هستند. این تفاوت‌ها نه‌تنها طبیعی، بلکه ضروری است؛ زیرا جامعه به افراد گوناگون با مهارت‌های متفاوت نیاز دارد. بنابر این تمرکز بر شناخت این ارزش‌ها، به جای مقایسه کودک با دیگران، می‌تواند زمینه‌ساز رشد متوازن او گردد.
مقایسه کودک با دیگران، یکی از اشتباهات رایجی است که گاهی از سوی والدین و حتی معلمین صورت می‌گیرد. جملاتی مانند «ببین هم‌صنفی‌ات چقدر خوب درس می‌خواند» یا «چرا مثل برادرت نیستی؟» ممکن است در ظاهر انگیزه بخش به نظر برسند، اما در واقع تأثیرات منفی عمیقی بر روان کودک دارد. چنین مقایسه‌هایی باعث کاهش اعتماد به نفس، ایجاد احساس ناتوانی و حتی حسادت در کودک می‌شود. کودک به جای تمرکز بر پیشرفت خود، همواره خود را کمتر از دیگران می‌بیند و این امر می‌تواند مانع شکوفایی استعدادهای او گردد.
در مقابل، زمانی که ارزش‌های فردی کودک مورد توجه قرار گیرد، احساس ارزشمندی و خود باوری در او تقویت می‌شود. کودک درمی‌یابد که به خاطر توانمندی های خاص خود مورد پذیرش و احترام است. این احساس، انگیزه او را برای تلاش و پیشرفت افزایش می‌دهد. به همین دلیل، والدین و معلمین باید تلاش کنند تا به جای مقایسه پیشرفت‌های کوچک و بزرگ کودک را مورد توجه قرار داده و او را تشویق نمایند.
یکی از راه‌های مؤثر در شناخت ارزش‌های فردی کودک، مشاهده دقیق رفتارها و علایق او است. والدین باید ببینند که کودک در چه فعالیت‌هایی علاقه و تمرکز بیشتری نشان می‌دهد و در انجام چه کارهایی موفق‌تر است. همچنان، گفتگو با کودک می‌تواند در این زمینه بسیار کمک کننده باشد. وقتی کودک فرصت بیان احساسات و علایق خود را داشته باشد، بهتر می‌توان به دنیای درونی او پی برد.
نقش مراکز تعلیمی را نیز در این زمینه بسیار ارزنده باید تلقی نمود؛ زیرا معلمین باید محیطی را فراهم سازند که در آن هر شاگرد بتواند توانایی‌های خود را به نمایش بگذارد. استفاده از روش‌های متنوع تدریس، فعالیت‌های گروهی و برنامه‌های خاص می‌تواند فرصت مناسبی برای کشف و تقویت استعدادهای مختلف شاگردان فراهم نماید. معلمی که به تفاوت‌های فردی شاگردان احترام می‌گذارد، می‌تواند نقش مؤثری در رشد همه جانبه آنان ایفا کند.
تشویق مناسب یکی از ابزارهای مهم در تقویت ارزش‌های فردی کودک است. زمانی که کودک برای تلاش‌ها و موفقیت‌های خود مورد تقدیر قرار می‌گیرد، انگیزه بیشتری برای ادامه مسیر پیدا می‌کند. این تشویق می‌تواند به شکل کلمات محبت آمیز، توجه بیشتر یا حتی فراهم‌سازی امکانات لازم برای رشد استعدادهای او باشد؛ اما در مقابل، سرزنش و مقایسه نه‌تنها کمکی به رشد کودک نمی‌کند، بلکه ممکن است او را از تلاش باز دارد.
باید توجه داشت که هر کودک مسیر رشد خاص خود را دارد. برخی زودتر به موفقیت می‌رسند و برخی نیاز به زمان بیشتری دارند. این تفاوت‌ها کاملاً طبیعی است و نباید باعث نگرانی شود. مهم آن است که کودک در مسیر خود، با حمایت و راهنمایی مناسب حرکت کند. تمرکز بر پیشرفت فردی، به جای رقابت ناسالم با دیگران می‌تواند نتایج بهتری به همراه داشته باشد.
از دیدگاه اجتماعی، پرورش کودکانی که ارزش‌های فردی خود را می‌شناسند، به شکل‌گیری جامعهٔ سالم‌تر کمک می‌کند. چنین افرادی با اعتماد به نفس بالا و شناخت توانایی‌های خود، می‌توانند نقش مؤثری در توسعه جامعه ایفا نمایند. آنان به‌جای رقابت منفی، به همکاری و همدلی روی می‌آورند و این امر باعث پیشرفت جمعی می‌شود.
در پایان می‌توان گفت که شناخت ارزش‌های فردی کودک به دور از مقایسه، یکی از اصول مهم در تربیه سالم و موفق است. والدین و معلمین باید با درک این موضوع تلاش کنند تا به تفاوت‌های فردی کودکان احترام گذاشته و زمینه رشد آنان را فراهم سازند. با چنین رویکردی، می‌توان نسلی را پرورش داد که با اعتماد به نفس، نو آوری و احساس ارزشمندی، در مسیر مؤفقیت گام بر می‌دارد و آیندهٔ روشن برای خود و جامعه رقم می‌زند.

**محمد قسیم نادم**

# Marif
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»، مولوي عزیز احمد «ریان»، مولوي حبیب الله «مؤذن»، احمد شعیب «حقیقي»، عبدالصبور «غفراني»، محمد نسیم «عیاذ»
مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»
صفحه آرا: محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر: ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او ټلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 329 /2026


# برگزاری نشست علمی ارائه نتایج تحقیقات سال گذشته تعلیمی

ریاست تحقیقات علمی وزارت معارف، به منظور ارائه نتایج تحقیقات علمی، مقالات و سایر فعالیت‌های تحقیقی انجام‌شده در جریان سال ۱۴۴۷ هـ.ق نشست علمی تحقیقاتی را در تالار جلسات ریاست مرکز ساینس وزارت معارف برگزار کرد.
در این نشست، معین محترم تضمین کیفیت وزارت معارف، مسئولین اکادمی علوم شخصیت‌های علمی استادان و محققان اشتراک داشتند.
در آغاز نشست، محترم مولوی محمدعثمان حریت رئیس تحقیقات علمی وزارت معارف درباره فعالیت‌ها و دستاوردهای این ریاست معلومات ارائه کرد.
وی گفت که تقویت نظام



تعلیمی، شناسایی مشکلات موجود، رفع موانع و یافتن راه‌حل‌های مؤثر از اولویت‌های اساسی ریاست تحقیقات علمی است.
پس از آن، محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق، معین تضمین کیفیت وزارت معارف در رابطه به اهمیت...

ص۲

# د زابل ولایت په دوه بابه ښوونځیوکې د ځایي اوسېدونکو په مالي مرسته د ټولګیو جوړولو چارې پیل شوې

د زابل ولایت د خاک افغان ولسوالۍ اړوند د مرکزي لیسې او د ارغنداب ولسوالۍ د سلیمان زائي ابتدائیه ښوونځي لپاره د درسي ټولګیو د جوړولو د بنسټ ډبرې د بېلابېلو مراسمو په ترڅ کې چې په کې د د زابل ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو، علماءکرامو قومي مشرانو او یو شمېر ځایي اوسېدونکو ګډون کړی وو د یولړ مراسمو په ترڅ کې پیل شوې.
د خاک افغان ولسوالۍ د پوهنې آمر محترم مولوي محمد یوسف احمدي، د سیمې له خلکو مشرانو او د ښوونځي له شورا څخه د هغوی د همکارۍ او مالي ملاتړ له امله مننه وکړه، نوموړي څرګنده کړه ...

۲مخ

# دومین نشست سکتور تعلیم و تربیه در هرات برگزار شد

دومین نشست سکتور تعلیم و تربیهٔ سال ۱۴۰۵ هـ/ش به هدف بررسی نیازمندی‌ها، تعیین اولویت‌ها، تقویت هم‌آهنگی میان ادارات عضو این سکتور و نظارت بر اجرای پروژه‌های انکشافی، اقتصادی و اجتماعی، در مقر ریاست معارف ولایت هرات برگزار شد.
در این نشست، محترم مولوی محمد رحمانی رئیس معارف ولایت هرات، همراه با رؤسا و نمایندگان ریاست‌های پوهنتون، اطلاعات و فرهنگ، تربیت بدنی و ورزش، تعلیمات تخنیکی و مسلکی، رادیو تلویزیون ملی، حفاظت محیط زیست، اقتصاد و نهادهای همکار ریاست معارف حضور داشتند و پیرامون برنامه‌ها، روند هم‌آهنگی میان ادارات و چگونگی تطبیق پروژه‌ها بحث و تبادل نظر کردند.
رئیس معارف هرات با تأکید بر اهمیت هم‌آهنگی و همکاری میان ادارات عضو سکتور تعلیم و تربیه، نظارت دقیق و همه‌جانبه بر اجرای پروژه‌های انکشافی و فعالیت‌های نهادهای هم‌کار را مطابق تفاهم‌نامه‌های منعقدشده، از الزامات تحقق اهداف این سکتور عنوان کرد.
در پایان نشست، مسئولان ادارات عضو ضمن طرح مشکلات، دیدگاه‌ها و پیشنهادهای خود، بر تداوم همکاری های مشترک، تقویت هماهنگی و تلاش برای اجرای مؤثر برنامه‌ها و دست‌یابی به اهداف سکتور تعلیم و تربیه تأکید کردند.

# غزني ولایت کې د یو باب ښوونځي نوې ودانۍ افتتاح او د یو باب ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د غزني ولایت د جغتو ولسوالۍ اړوند جانه شاکي په سیمه کې د شاکي منځني ښوونځي نوې ودانۍ د یوې غونډې په ترڅ کې چې په کې د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي میر نصیر احمد حسیني، د جغتو ولسوالۍ د پوهنې آمر، علماءکرامو، د یو شمېر ادارو مسئولینو، قومي مشرانو ، ښوونکو او زده کوونکو ګډون کړی وو پرانیستل شوه.
د غزني ولایت د پوهنې ریاست د مسئولین وایي چې یاد ښوونځی د سیمې د اوسېدونکو په مرسته د ۷ میلیونه افغانیو په لګښت په یو نیم جریب ځمکه کې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی چې



۸ معیاري درسي ټولګي او اړین ملحقات لري.
د یاد ښوونځي د پرانیستې په مراسمو کې د غزني ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي میر نصیر احمد حسیني د سیمې د خلکو له همکارۍ او ملاتړ څخه‌مننه وکړه ...

۲مخ

# رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی عازم ولایت سرپل شد

محترم الحاج مولوی اول‌گل ایوبی رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی وزارت معارف در رأس هیئت بلند رتبه به ولایت سرپل سفرکرده و در نشستی با مسئولین ریاست معارف، اعضای بخش انکشاف مسلکی معلمین و مسوولان مرکز ساینس ریاست مذکور دیدار ودر مورد موضوعات مرتبط به معارف آن ولایت گفتگو کردند.
رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی وزارت معارف، ضمن ابراز خرسندی از حضور در ولایت سرپل، از تلاش‌ها و همکاری‌های مسئولین و کارکنان ریاست معارف در راستای ارتقای کیفیت تعلیم، توسعه برنامه‌های انکشاف مسلکی معلمین و بهبود روند تعلیمی قدردانی کرده و بر تداوم همکاری‌ها و تقویت برنامه‌های ارتقای ظرفیت معلمین تأکید کرد.
در ادامه، محترم مولوی رحمت‌الله جابر رئیس معارف ولایت سرپل، ضمن خیرمقدم به هیئت وزارت معارف، سفر آنان را گامی مؤثر در راستای تقویت هماهنگی های بیشتر، ارزیابی فعالیت‌های تعلیمی و حمایت از برنامه‌های انکشاف مسلکی معلمین در آن ولایت دانسته و از توجه و همکاری وزارت معارف با ریاست معارف ولایت سرپل ابراز سپاس و قدردانی کرد.
در پایان، محترم مولوی اول‌گل ایوبی ازنشست مسلکی ارتقای ظرفیت معلمین، شوراهای معارف و از شماری مراکز تعلیمی در مرکز و ولسوالی های ولایت سرپل بازدید به عمل آورد.
همچنین پیرامون رفع چالش‌ها، بهبود کیفیت برنامه‌های تعلیمی، توسعه خدمات انکشاف مسلکی معلمین و تقویت هماهنگی میان مرکز و ولایت، نظریات و پیشنهادهای لازم میان هر دو جانب تبادله شد که در موارد یاد شده مشوره های لازم ارائه گردید.

# د مدارسو او دارالحفاظونو رئیس د فاروقیه مدرسې د څلورنیم میاشتني آزموینې له بهیر څخه لیدنه وکړه

د مدارسو او دارالحفاظونو رئیس محترم الحاج مفتي محمد یوسف ثاقب او د مدارسو علمي او تدریسي آمر محترم مولوي محمد اسماعیل منیب د څلورمې ناحیې اړوند د فاروقیه مدرسې د څلور نیم میاشتني امتحان له بهیر څخه لیدنه او څارنه وکړه.
د یادې مدرسې له ابتداییه څخه تر اوومې درجې پورې طُلابو کرامو آزموینه د ټاکل شوي مهالوېش له مخې په شفاف ډول د ممتحنینو، ممیزینو د مدارسو او دارالحفاظونو د ریاست د استول شوي هیئت په حضور کې ترسره شو.
د مدارسو او دارالحفاظونو رئیس محترم مفتي محمد یوسف ثاقب طُلابو کرامو او مسئولینو ته د د زده کړې او د آزموینې بهیر په شفاف ډول تر سره کېدو په اړه لازمې لارښوونې وکړې.

**بیائید در تقویت نظام تعلیمی دست به دست هم داده این مسئولیت دینی و افغانی خویش را در قبال فرزندان خود با کمال حُسن نیت و صداقت اداء نمائیم.**